# <u>مطبوعاتي اعلاميه</u>

## د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر د ښځو برخې یو کمپاین پیل کړی دی، چې سرلیک یې دی: «په قرغیزستان کې د پرهېزګارو مسلمانو ښځو ترهګري ودروئ!»

د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر د ښځو برخې په قرغیزستان کې د افراطي سیکولر رژیم له لوري د پرهېزګارو مسلمانو مېرمنو د ترور پای ته رسېدل غواړي. دغه ظالم نظام چې د ترهګرۍ سره د مبارزې د جعلي دعوې او فرېب تر نوم لاندې د اسلام پر وړاندې جګړه کوي، یو شمېر مسلمانې مېرمنې یې په غیر منصفانه ډول د حزب التحریر سره د تړاو په تور نیولې دي، په داسې حال کې چې دا یو اسلامي سیاسي حزب دی، له تشدد پرته سیاسي کار کوي او غواړي چې د اسلامي خلافت دولت تاسیس کړي.

د جون په ۲۷مه، په قرغیزستان کې د ملي امنیت ریاست کمېټې ۸ بې ضرره مسلمانې مېرمنې د حزب التحریر سره د تړاو په تور په نارین ښار کې ونیولې، چې د قرغیزستان حکومت پرې بې اساسه تور لګولی دی چې دا یو افراطي سازمان دی. په داسې حال کې چې حزب د تاوتریخوالي په یوه عمل کې هم دخیل نه دی او نه یې هم د تاسیس راهیسې یوه پېښه تایید کړې ده. هغه مېرمنې چې نیول شوې عبارت دي له: ارونوفا ارکنجول، چې د خپلې سپین سرې مور او سپین ږیري پلار سرپرستې ورپه غاړه ده او مور یې له سختې ناروغۍ څخه کړېږي، مګر بیا هم ارونوفا په توقیف کې ساتل کېږي؛ باکتیبیک کیزي محبت، داسې یوه ناروغي لري، چې تل په منظمه توګه درمل ته اړتیا لري او د داسې کوچنیو ماشومانو مور ده، چې تر اوسه پورې حتی ښوونځي ته نه دي شامل شوي، مګر بیا هم په توقیف کې ده؛ اجومیدینوفا الماجول د خپل لمسي د پالنې پر مهال، چې دماغي فلج لري ونیول شوه؛ اجومیدینوفا ارتشاجول هم ونیول شوه، څلور ماشومان لري، چې عمرونه یې ۱٦، ۹، ٦ او ۲ کلونه دي. اسماعیلوفا میریم، چې څلور لونې لري، عمرونه یې ۱۲، ۱۰، ۸ او ٦ دي په خپل کور کې نظربند ده؛ کادیریالیفا میریم، دوه کوچني ماشومان لري، چې عمرونه یې ۹، او ٦ کلونه دي؛ ایتبیکوفا غولنور ۲۵ کلنه ده او واده یې کړی دی؛ مامیرکانوفا امانجول، څلور ماشومان لري چې عمرونه یې ۱۷، ۱٦، ۱۰، او ۴ کلونه دي.

که څه هم دا هېواد د کوېډ-۱۹ له امله د قرنطین تر مقرراتو لاندې دی، شلو کسانو د ارونوفا ارکنجول پر کور چاپه ووهله، حتې هغه دې ته پرېنښودل شوه چې خپل عورت پټ کړي. د پلټنې په جریان کې، داسې کتابچې ورسره وې چې خطونه او مخففات پکې لیکل شوي و، په داسې حال کې چې له نیول شوو مېرمنو سره یې هېڅ تړاو نه درلود. امنیتي ځواکونو زموږ مسلمانې خویندې په ډېرې بې شرمۍ سره تلاشي کړې، له ۱۰ څخه تر ۱۲ ساعتونو پورې یې هغوی په سړه هوا او لوږه کې توقیف کړې وې، چې هلته بیا باکتیبیک کیزي محبت ناروغه

شوه او روغتون ته يې يووړه. په هر صورت، دوی توقيف کېدو ته دوام ورکوي، مامورينو له ماميرکانوفا امانجول څخه د هغې په کور کې د ماسپښين له ۳ بجو څخه وروسته تر نيمې شپې پورې، په داسې حال کې تحقيقات وکړل چې د هغې ۴ کلن زوی تازه د زړه عمليات کړی و. دوی پرته له دې چې ټولنيز واټن په پام کې ونيسي له چټلو دستکشو سره د هغې کور ته ورننوتل. ارونوفا ارکنجول او باکتيبيک کيزي محبت به تر هغه پورې په توقيف کې ساتل کېږي، تر څو چې يې تحقيقات بشپړ شي. په هر صورت، يوه مياشت کېږي چې په توقيف کې دي، مګر تر اوسه پورې يې ان يو ځل هم پوښتنه نه ده کړې، ځکه چې د زندان اداره قرنطين ده. دوی ته اجازه نه ورکول کېږي چې له خپلو خپلوانو سره وګوري. که چېرته د دولت تورونه جرم وګڼل شي، دوی به څو کلونه په زندان کې پاتې شي.

د نبوت پر منهج د راشده خلافت او د اسلام د بيا راژوندي کولو لپاره د قرغيزستان رژيم د دعوتګرو  پر وړاندې خندونه جوړوي، زموږ بې ګناه او باعزته مسلمانې مېرمنې تهديدوي، تر څو د الله سبحانه و تعالی د دين د پياوړتيا په لوري د خلکو په زړونو کې وېره واچوي. په هر صورت، دوی په دې کار سره د روسيې او غرب بادارانو ته غاړه ږدي. مسلمانې مېرمنې د هېواد لپاره ګواښ نه دي، بلکې دا د سيکولر رژيم واکمني او ناوړه سيکولر نظام دی چې فساد، درغلي، اقتصادي ناکامي او د کوېډ-۱۹ مديريت يې د زړه سوي وړ دی. موږ دغه کرغېړن رژيم ته وايو چې د ترهګرۍ او زور زياتي له لارې د قرغيزستان د مخلصو مېرمنو پر وړاندې ستاسو جرمونه به نړۍ ته پټ نه وي. د دوی وضعيت به په نړيواله کچه څرګند شي! موږ د خپلو معززو مسلمانو خويندو د ژر تر ژره خوشي کولو او په قرغيزستان کې د دې امت د پاکو لوڼو پر وړاندې د ظلمونو د پای ته رسېدلو غوښتنه کوو!

کمپاين دلته وګارئ!

**http://www.hizb-ut-tahrir.info/en/index.php/hizbuttahrir/19978.html**

**او**

**https://www.facebook.com/womenscmoht/**

**ډاکټر نسرين نواز**

**د حزب التحرير- مرکزي مطبوعاتي دفتر د ښځو برخې مشره**

**۱۴۴۲ هـ.ق کال، د محرم ۲یمه**

**۲۰۲۰م کال، د اگسټ ۲۱مه**

**د صدور گڼه: ۱۴۴۲/۰۰۱**